مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۳/۱۶

# پښتون فردوسي

په پښتنو شاعرانو کې دوو تنو ته د" پښتون فردوسي" لقب ورکړه سوی دئ. دا دوه تنه پښتانه شاعران د عصر له مخي په یوه زمانه کي اوسېدلي دي خو یو د پېښور د نوښار او بل ئې د کندهار په ارغنداو کي د جیلاوور۱ اوسېدونکی وو.

هسي خو خوشحال خان ختک هم چي کله د خپلي شاعرۍ کمیت او کیفیت مخي ته کښېږدي، خپل ځان ورته دومره په تاله درون ښکاره سي چي فردوسي لا هم د ځان سیال نه ګڼي:

که له هجوي له غندني درته وایم
فردوسي مي په دا کار ګښي نه دئ سیال
فردوسي لري ځو بیته له محموده
زه لرم د اورنګزېب د ذم جوال
(د خوشحال ختک مرغلري ـ ۶۱۰ مخ)

دغه دوه تنه له دې اسیته په دغه لقب نه دي بلل سوي چي ګڼي دوی د پارسي ژبي د کثیرالکلام شاعر ابوالقاسم فردوسي ( ۳۲۹ـ ۴۱۶هـ ق) په شان نریوال شهکار پرې ایښی دئ، یا ئې د شعر کیفیت هغي درجې ته رسېږي چي د فردوسي شهنامه ئې لري، بلکي دا لقب له دې امله ورکول سوی دئ چي د دوی په تخلیقي او ژباړل سوو آثارو کي هغه لاړ پالل سوې ده چي فردوسي د شهنامي په کښلو کي اخیستي وه.

د ابوالقاسم فردوسي شهنامه په دریو غټو استقامتونو روانه ده چي یو استقامت ئې اسطوري دي، بل ئې د جګړو او مقابلو پر ډګر پهلوانی دي او دریم ئې یو لړ تاریخي مطالب دي. د" پښتون فردوسي" په لقب زموږ د دوو تنو پښتنو شاعرانو له کلامه منځ ته راغلي آثار هم همدغه دري واړه برخي لري.

د ابوالقاسم په شهنامه کي د نادرو او ارکائیکو لغتونو او کلماتو یوه ستره زېرمه خوندي سوې ده. زموږ ددغو دوو تنو ناظمانو په شعر کي هم د پښتو ژبي ډېر هغه لغات خوندي سوي دي چي که ئې زموږ لیکنو ته لاړ وموندله، په یقین سره ویلای سم چي د پښتو ژبي لغوي زېرمه به خورا زیاته بدایه او شتمنه سي.

د دغو دوو تنو پښتنو شاعرانو له خوا د ویل سوو بیتونو شمېر د ابوالقاسم فردوسي د شهنامي بیتونوته رسېږي یا تر هغواوړي.

د زیاترو محققینو له نظره او په هغو کي د مشهور الماني ختیځپوه تیودور نلدکــي Theodor Nöldeke (۱۹۳۰ ـ۱۸۳۶) د څېړنو له مخي د ابوالقاسم شهنامه د اته څلوېښت زرو او دوپنځوس زرو تر منځ بیتونه لري. تیودور نلدکي د خپل دغه استنتاج له پاره د شهنامي څلوېښت بېلابېلي خطي نسخي کتلي او څېړلي دي. په دې څلوېښتو خطي نسخو کي دوې نسخي شپېته زره بیته او یوه نسخه څه دپاسه یو شپېته زره بیته لري. خو وایي په دغو درو نسخو کي الحاقي شعرونه ګډ سوي دي.

زه غواړم په دې لیکنه کي د" پښتون فردوسي" لقب لرونکي دا دوه تنه در وپېژنم او د هغوی ایجادیات در وښیم.

د نوښار اوسېدونکی (پښتون فردوسي) ملانعمت الله نومېږي. د محمدزي عطاؤ الله اخوندزاده زوی او په ۱۲۷۵هـ ق کي زېږېدلی وو. ده خورا ډېر دیني، قصصي، فولکلوري او خیالي داستانونه په ځانګړي او روان نظم کښلي دي. د ادبي تاریخ لیکونکو او د شعر ماهرانو ئې نظم ښکلی بللی دئ. ده قصص له نورو ژبو څخه پښتو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

رااړولي دي او ویل کیږي چي په پارسي، عربي، پنجابي، چترالي او اردو ژبو کي د ترجمي صلاحیت درلود. موږ ته معلومي منظومي ژباړي او تالیفات ئې دادي : موسی خان او ګل مکی، ظریف خان سواتی، فتح خان قندهاری، لیلی او مجنون، شیرین او فرهاد، سوهني مهینوال، ګل او صنوبر،د فردوسي شهنامي ترجمه، جنګنامه د رستم و سهراب، شهزاده بهراګور، واسع نامه نوبهار، طوطي نامه، خجسته بانو، چهار درویش، حاتم طایي، آداب زنان، اکتساب زنان، مکر زنان، بیربل نامه، نیمبولا او تیمبولا، وجه تسمیه پراچګان، مجموعه کسب نامه، جنګنامه حسنین، شاهنامه چترال، تذکره غوثیه، درالمجالس، حقیقت الاسلام، اعجاز محمدی، ګلزار شایقین، جنګنامه شیرعلي، انیس الواعظین، تعبیر خوابنامه کلان، فالنامه کلان، تفسیر سوره رحمان، تفسیر سوره یاسین، سوره ملک، طب بوعلي سینا، شهزاده رعنا و زیبا، هشت بهشت، کلیله و دمنه، قصص الانبیاء، ....۲ او الف لیلی.

ملانعمت الله د ۱۹۲۹ع کال د سپتمبر پر ۳۰مه د جمعي په شپه مړ سوی او پر شنخته ئې لیکل سوي دي:

ګور کي ناست یمه یوازي غم ځپلی
څو شوکت له مدرسی نه وي راغلی

د کندهار د ارغنداو د جیلاوور اوسېدونکی " پښتون فردوسي" میر حیدر صاحبزاده نومیږي. د ده په باب له نن څخه اووه شپیته کاله پخوا ارواښاد محمد دین ژواک په کابل مجله ( ۲۳کال ۸مه ګڼه) کي یو لړ مطالب له ده سره د مرکي پر بنسټ ؟ خپاره کړل. له دغي لیکني څخه علامه رشاد مرحوم پخپل ناچاپ اثر پښتانه مصنفین (دریم ټوک ۱۰۱مخ) کي ځیني برخي رااخیستي او خپل یاداښتونه ئې هم پر زیات کړي دي. دغه راز د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس ارواښاد عبدالمجید بابي چي د میر حیدر صاحبزاده د"مناظری" کتاب په ۱۳۸۳ش= ۲۰۰۴ع کال له کندهاره خپراوه، دصاحبزاده مرحوم پر ژوند ئې د ده د خپلو آثارو او اشعارو له مخي او دغه راز دده د زوی محمد عیسی اخندزاده له خولي نسبتاً مفصل ژوند لیک ورسره مل کړ.

زما دا اوسنی لیکنه د همدي درو واړو ماخذونو له مخي ترتیب سوې ده.

میر حیدر صاحبزاده زموږ په ادبي ماخذو کي په همدي نامه راپېژندل سوی دئ. ځای ځای د میرحیدر آغا په نامه هم یاد سوی دئ. خو دی خپل نوم حیدرشاه بولي او وایي چي تخلص ئې " حیدري" دئ او پر ځنګ ئې په " ناظم" سره مشهور دئ.

تخلص مي حیدري نوم حیدر شاه دی
په ناظم سره شهرت زما شاوخوا دی

دی د ۱۳۱۸هـ ق کال د شوال المکرم میاشتي پر ۱۴مه د شنبي په ورځ د کتواز په عرض بیګي کلا یا کلي کي زیږېدلی دئ.

زر دري سوه اتلسم کال د هجرت وو
ورځ شنبه وه د ظهري دغه ساعت وو
زه پیدا وم څورلسمه میاشت شوال وو
د امیر عبدالرحمن خان پر ملک حکومت وو

په کابل مجله کي ئې د زیږېدو کال ۱۲۷۹ش= ۱۳۱۴ق= ۱۸۹۵ع ښوولی دئ چي هم د ناظم له خپل قول سره توپیر لري او هم ئې د هجري او میلادي کلونو د اړولومحاسبه سمه نه ده.

د عرض بیګي کلا د کتواز په لویدیزه خوا کي پرته ده او د خوشامند په علاقه داری اړه لري. دغه ځای د ډیلي سیمي ته نژدي ده. ډیله د یوي سیمي او رود نوم دئ چي د مقر د بازار جنوبي خواته واقع ده. ددي کربنو لیکوال په زلمیتوب کي دغه ځای ته د هیلیو په ښکار وتلی وو.

د میرحیدر صاحبزاده پلار فیض الله صاحبزاده نومېدی او نیکه ئې مهترموسی نومېد چي د خپل وخت لوی عارف او د حاجي دوست محمد کندهاري خلیفه وو. د فیض الله صاحبزاده زیارت د مقر اولسوالی په چوله کي واقع دئ. داسي ښکاري چي په دغه نامه دوه ځایه سته. یو ئې "کمکی چوله" او بل ئې"لو چوله" نومیږي. علامه رشاد لیکلي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

"کمکی چوله له مقره څخه دومره ليري ده چي يو تکره سړی په پلي تګ په دريو ساعتو کي ور رسېږي. په کمکی چوله کي يو کارېز دئ د زرچه په نامه. تر چولي چي ووزي، لوړګی دښت واقع دئ. په لوړګي دښت کي تر ډېلي پوري د شپږو ساعتو پلي تګ لار ده.۳"

دا کورنی په نسبي لحاظ د پښين له ياسينزو سره تړاو لري. ياسينزي د بخاري ساداتو يوه پښنه ده او د ۱۹۰۷ع کال د احصائيې له مخي ئې شمېر ۳۶۸تنه وو. دوی ځانونه د سيد ډُرجمال نيکه اولاده بولي.

فيض الله صاحبزاده د علم په طلب پسي هند، ايران او عربي هيوادو ته سفرونه کړي او مروج علوم ئې زده کړي ول. په فارسي ژبه ئط شعر وايه او د" مثنوی غمګين" په نامه ئې کتاب کښلی وو چي وايي په کورنی کي ئې خوندي وو. ده په پښتو هم شعرونه ويلي دي چي يوه نمونه ئې داسي ده:

په هيڅ ډول مي د يار ديدن پرې نه ښو
که هر څو وو د رقيب راته تل غرېږ
د رقيب په لاپو شاپو بند واز نه يم
هجران شو زمری، رامات ئې کړ اورمېږ

د فيض الله صاحبزاده اکا محمد عمر صاحبزاده هم په پښتو شعر ويلی دئ او " در مختار" ئې پښتو نظم ته رااړولی دئ چي وايي دده له لمسي عبدالله جان صاحبزاده سره يو وخت ليدل سوی وو. د فيض الله صاحبزاده وررور عبدالکريم صاحبزاده د علم پرخه درلوده او پر ښنګ ئې د پښتو شعر نموني هم پاته دي:

چي دي بدر د ناخن هلال په سر کړ
لمر له شرمه سر پر ځای د مازيګر کړ
قد زيبا ستا چي سر لوړ کړ له شمشاده
سروي سر د سلامۍ په زانو ورکړ

د پښتون فردوسي مير حيدر صاحبزاده پلار دده په وړکتوب کي مړ سوی وو او دی له خپل اکا سره له عرض بيګي کلا څخه د ارغنداو جيلاوور ته راکډه سو. لومړنی تعليم ئې له خپل اکا څخه وکړ. وروسته د نور علم په طلب پسي پښين ته ولاړ. هورې ئې څه علوم ولوستل خو د علم تندي تر کوهاټه، تر ډهلي او تر مدراسه ورساوه. په مدراس کي د مولوي ابوالوفا صاحب افغاني په شهرت خبر سو او سمدلاسه دکن ته ورغی او د هغه د شاګردانو په ډله کي شامل سو. د ميرحيدر صاحبزاده له خولي ويل سوي دي چي پښتو ژبي ته ئې لوی هڅوونکی مولانا ابوالوفا صاحب وو. له مولانا صاحب څخه د علومو تر تحصيل وروسته هيواد ته راغی. په دغه وخت کي د سردار محمد هاشم خان د صدارت دوره وه. مير حيدرصاحبزاده خپل لومړی کتاب چي د فقه په باب په نظم وکيښ، محمد هاشم خان صدراعظم ته ئې اهدا کړ او له همدي اسيته ئې نوم " تحفة الهاشميه" پر کښېښوو. دده منظوم آثار چي مونږ ته معلوم دي، په دي ډول دي:

۱ ــ تحفة الهاشميه ــ ۹۰۰ بيته
۲ ــ علم الفرايض ــ ۷۵۰ بيته
۳ ــ پوره انسان ــ ۱۵۰۰ بيته
۴ ــ ادبي حکايات ــ ۱۰۰۰ بيته
۵ ــ د پوهانو افکار ــ ۱۵۰۰ بيته
۶ ــ د افغانستان تاريخ په څو برخو کي:
الف ـ تر اسلام دمخه ــ ۱۵۰۰۰ بيته
ب ـ د کوشانيانو تاريخ ــ ۹۰۰۰ بيته
ج ـ د اسلام په ظهور کي د طاهريانو تر پايه ــ ۵۶۴۸ بيته
د ـ د ميرويس نيکه او هوتکيانو تاريخ ــ ۲۲۰۰ بيته
هـ ـ د احمد شاه بابا تاريخ ــ ۵۳۰۰ بيته
و ـ په نونسم قرن کي د افغانستان تاريخ ــ ۹۰۰۰ بيته
ز ـ د تيمور شاه او زمانشاه دوره ــ ۳۶۲۲ بيته
ح ـ د صفاريانو او سامانيانو دوره ــ ۲۹۰۰ بيته
ک ـ د غزنويانو تاريخ ــ ؟ بيته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ل ـ د غوريانو تاريخ ـ ؟ بيته
۷ ـ مناظرې ـ ۱۷۳۲ بيته
۸ ـ دوه زره پښتو متلونه، هر يو په يوه څلوريځه کي.

له دې آثارو څخه ئې يو ازې مناظرې په ۱۳۸۳ش کال د کندهار د اطلاعات او کلتور رياست په همت او د ښاغلي مطيع الله روهيال په زيار چاپ سوې دې. نور ئې د ظاهر شاهي دورې په کلونو کي د کابل تر پښتو ټولني پوري رسولي ، خو د چاپ غم ئې چا نه دئ خوړلى. له دغو آثارو څخه ئې يوازې د افغانستان د منظوم تاريخ په صله کي د آريانا جايزه چي په هغه وخت کي د افغانستان لومړۍ درجه جايزه وه، په ۱۳۳۲ هـ ش کال ورکول سوه او پر ځنګ ئې حکومت ورته پنځوس جريبه مځکه د کندهار په ارغنداو کي ور وبخښله. دغه راز د اعليحضرت محمد ظاهر شاه له خوا ورته يوه بګړۍ، يو طلايي ساعت، يو طلايي قلم، يوه چينه او اتلس زره افغانۍ نغدي ورکول سوي. له دې انعامونو او بخښښونو څخه څوک ددغو منظومو آثارو په ارزښت او اهميت پوهېدلاى سي. خو له بده مرغه د پښتو ټولني د هغه وخت مسؤلينو ئې د آثارو د چاپ په برخه کي غوړونه کانه واچول او تر ننه لا هم په پښتو ادبي زېرمه کي ددغه شان مغتنمي مجموعي ځاى تش دئ.

د افغانستان ددغه منظوم تاريخ يو دوې ټوټي په کابل مجله (۲۳ کال اتمه ګڼه، ۲۲ ـ ۲۳ مخونه) کي چاپ سوي دي چي دلته ئې دوهم وار بيا رانقلوم:

قوم ته د ميرويس نيکه خطاب:

درته وايم په ايمان پښتنو داسي
زه يوازې په مطلب پوهوم تاسي
چي پر سر اخيستي ما لويه خوارې ده
زما غرض پکښې دا ستاسي آزادي ده
آزادي هغه نعمت بې بها دئ
لاس راوړو ته ئې هر قسم کار روا دئ
روا بولم چل او جنګ او د سر پرېکړه
څو چي کړي پيدا ببوزلو لره ټېکه
زموږ له منځ څخه وتلى اوس ګرګين دئ
نو د تاسي زړه په کومه خبر شين دئ
پښتون هغه باغيرته کلک ټبر وو
چي مغل دده له توري کنډ کپر وو
مغلانو کړه له دوی نه ماتې جانه
ماتي نه ده د پارسي فوج ورته ګران
اوس که تاسي په رشتيا ټينګه زما ملا کړئ
په همت تر شا، راتلونکى فوج د شاه کړئ
نو به تېري شي په دې جګړې زموږ ناړي
و به باسو د ذلت ځنځير له غاړې
خلاص به قام له مرئيتوبه او ذلت شي
پر هيواد به بيرغ لوړ د حريت شي
ولاړ به نوم د آزادی شي و ملکو ته
د نړی ټولو قومو او ملتو ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د پردو د تسلط جوغ به غوځار شي
خلاص به نوم د پښتانه له دغه عار شي
ورونو! اوس نو تاسي ټول زما په خوله کړئ
په همت پر خپل خالق توکل وکړئ
چي زموږ او ستاسي وي خالص نيتونه
او خوشاله وي له دي آزادی زړونه
په توکل چي په یوه رګی موږ درومو
پر لښکرو د پردو به بری مومو
اوس په لاس د نا اهلانو دا دولت دئ
دا ځو کاله د حکومت داسي حالت دئ
دا ځو کاله کال په کال دوی ذلت مومي
روځ په روځ د نړېدو پر لوري درومي
زه چي هلته په ايران کي لر و بر وم
په جزئي او په کُلي حال ئي خبر وم
د دولت غټان روان دي پر دوو لارو
یو د بل پر ضد کوي اقدام د چارو
کښلي دوی د يو و بل مخ ته کوهي دي
په نيتو او زړو کښي ډېر سره پردي دي
هر سړی ئي د خپل نفس پيروي کا
داسي نه ده چي د خپل ملک غمغوري کا
همېشه مشغول په عيش او په عشرت دي
نا خبره له احواله د ملت دي
سترګور سړی په ملک کښي نه وو، داسي
چي په سم طور نظام د ملک راباسي
*******
د احمد شاه بابا خويونه

چي ږغېږي مؤرخين له دي ټولواکه
ګڼه کېږي معتدل شاه له اخلاقه
ډېر پابند د اوامرو مذهبي وو
ولاړ ټينګ پر عرف عاداتو پښتني وو
چي اعمال افعال دده ته کاته کېږي
له شاهانو عادلانو حسابېږي
ټولواک کړو وصيت زامنو ته ټل داسي
مجرمان چي هيڅ وخت نه کړئ مثل تاسي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

بل ویلي دوی ته داسي وه نوموړي
له کورنشه د ځان منعه کړئ وګړي
بحث مجلس د علماوو به همېش کړئ
او حرمت به د سید او د درویش کړئ
د دینداره ټولواک زښته ډېر غیرت وو
له غیرته ئي همدارنګه حالت وو
ګنهکار تي له ګناه کوله تېره
له ضعیف سره ئي کړله مینه ډېره
ظالمانو او غلیم ته داسي وړ وو
ډار ئي نه کاوه همېش به په کاوړ وو
د خپل ملک پر فرد فرد مشفق په شان د پلار وو
پر مجرمو پر ظالمو سخت قهار وو
دا ټولواک وو جوانمرد حق پیژندونکی
د احسان په هیڅ وخت نه وو هېرېدونکی
له نادره چي احسان وو شاه لیدلی
کور دده ئي له تاراجه وو ساتلی
له ښاغلي چا لیدلی امساک نه وو
ډار او حرص او تکبر د ټولواک نه وو
په اعمال و په افعالو زما لاله
نه به ووت دی په هیڅ وخت له اعتداله
ښه اعمال صالحه ئي په دا شان دي
په همت او بزرګی ئي شاهدان دي
نو په دی حیث مورخین پښتانه واړه
مدح کړي ددې ټولواک په لوړه غاړه
او اکثره پښتانه ددغه غولي
احمدشاه له اولیاوو ګڼه بولي
دغه لوی افتخارات دده باله شي
ورته ګوره درنه ځړه په تاله شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ